عبدالله نجات

۲۰۱۵/۰۶/۱۸

# د ځینو معرفتی سترکچرونو تړه اوتعامل

اړتیا:
مونږ دلته دیو ځو معرفتي وییزو توکو پېژندنه او ددوی تر منځ خپلوي ،تعامل او پرتې پولي ُځو په لنډه توګه د پوهېدو لپاره راسپړو، او دلیل هم دادی چې دځینو مانابیزو جوړښتونو تر منځ هم دپېژندنې او په ځینو مواردو کې د توپیر ستونځه تر سترګو کیږي . بله مانا دا هم کېدئ شي چې دې وبیو ته معرفتي پلوه زیاته کتنه نده شوې .هځوب ،دود (سنت) او پېژاتد. یا په بله ژبه دکلچر سنت او هویت مانا او دهغوی خپلمنځی اړیکی . موخه دهغې تشي او تشیاو ډکول دي چې نه پوهېدو له امله مونږ ګوابښي.

**دانسان ، نړۍ او ټولنې په اړوند انځورونه اوپېژندګلوي**

هویت کولای شو دهغو انځورونو مخکاته او جاج (برآورد) وبولو چې مونږ یې له نړۍ ،انسان او ټولنیز ژونده لرو.هر انسان له خپل ځان، له نورو انسانانو او نړۍ او ګډ ژونده انځورونه او تعریفونه لري چې ددې انځورونو ټولښت او یو ځاېتوب په هغه صورت کی چې یوون او ټاکلې بڼه رامنځ ته کړي،هویت را ټوکوي. ددی ټاکلی هویت او پېژاند له کبله ده چې وېل کیږي چې هویت یوازی انساني یا انسان پوری تړلی مفهوم دئ او نوره حیوانات لدی موهبته بی برخې دي. نور حیوانات یوازی ماهیت لري او د هویت ښوونې او څرګندولو ځواک نلري. یانی هویتي ځواک او تشخص نلري .په بل عبارت یوازی په انسان کې دماهیت او هویت د تشخص واټن احساسیږي او په نورو ژویو کې ماهیت او هویت یو دي او واټن نلري. .لنډه داچې ماهیت شته خو هویت نشته.

هغه څه چې په انسان کې لومړیتوب لري او دهغه لوړتیا ښیي هغه دده پېژند او هویت دئ. انسان نه یوازی له هر څه خپل ځان تمیزوي او د اشیاو ترمنځ صوري (انځوریز) توپیرونه جلاکوي . تر دی لوړ او مهم د انسان ژوره ارتباطی مانابیزه او مفهوماتي پوهه او مانابیز تفکیک او مانابیز شناخت دی چې هیڅ ژوی یې په مانابیزه بڼه نلري.څه بڼه یې وبیلي چی هّیڅ دوه موجوده د دوو انسانانو په کچه یوله بله لېری ندی. ځکه چې دپوهی اغېزه پرانسان ډېره ځواکمنه او ټاکونکی ده او دانسانانو تر منځ پراخ واټنونه رامنځ ته کوي. دهویت اغېزه په ټولیزه کچه هم دفردي. هویت د مانا په څېر ده . او هغه داچې دلته هم دفردی هویتونو یوځایي او ګډی نښی او مانابیز علایم په پام کی ونیسو. دساری په توګه ګډ او شریک هویت یا شریکه ځانګړتیا چې په ټاکلې برخه کې دهغوی تړون ښیی دلته ښایی هغه انځورونه چی هر یو یی پر ټاکلی نوم دلالت کوي یا دټاکلي نوم ښوونه اوتشخص څرګندوي په پام کې ونیسو.

دغه انځورونه هغه هویت ترلاسه کوي هغه څوکوالی(چیستي) مومی چې دغه یوون دغه انځورونه له هغو انځورونو څخه چې ساري په توګه نور قامونه یې د نړۍ او انسان په نسبت لري، بېلوي. دساری په توګه دهغه هېواد وګړی ددغه هېواد وګړی څخه ددغه قام وګړی دهغه قام له وګړي نه ، ددغه مذهب ،ټولنیز جوړښت سیاسي او فرهنګی هویت لرونکی له هغه بل څخه. ګواکې مونږ دلته په یونه یو ډول مانابیزیووالی سره مخامخ یاستو چې هریو یې فردی انځورونه په ځان کې رانغښتي او اغشلي دي. لنډه داچې کولای شو ؛ هویت هغه ځانګړې او توحیدونکې انځورونه ، چې یو فرد او یا د افرادو یوه ډله یې دخپل ځان ،نړۍ او ټولنیز ژوند په باب لري ،تعریف کړو .

دغه انځورونه ښایي له لازم او وړ یووالي برخمن وي .او دوهمه دا چې دا نباید د انسان ماهیت سره نیغ په نیغه تړاو ولري.ولی چې انسان یوازینی موجود دئ چې د ده د ماهیت او هویت تر منځ واټن موجود دئ او لامل یې هم دده د فردي او ټولنیز ژوند په جوړښت او لوري ورکولو کې دپوهې د لویې ونډې شتون دئ .

**دود او د پېژندوالی یانی دهویت تاریخی زیږونځی**

دود یا سنت کولئ شو یو لرغونی ،په ځای پاتې او تاریخي هویت په پام کې ونیسو .سنت هغه هویت دئ چې دیوه کلتور په لیکلو آثارو کې رنګ او خوند یا په بله ژبه څان ښیي .نو سنت له دې پلوه دهویت لیکلې وجه ده. ناشونې ده چې د یوې ټولنې پېژندیزو(معرفتی) اثارو ته له پاملرنې پرته دهغه کلتور ته ورنږدې شو . زمونږ دپام وړ معنا له مخې دلته باید دسنت له لاری هویت ته نږدې شو په بل عبارت هویت ته دنږدې کېدو یوه بله لاره داده چې دهغه هویت لیکلو اثارو ته پاملرنه وشي .د کلتور او دهویت لیکلو اثارو ته د پاملرنې یو دلیل هم همدا دئ چې لدې لارې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جوتیږي  چې پخوانیو ځنګه سوچ کولو او انسان او نړۍ د دوی د انګېرنی او کتو له مخی ځنګه وه ؟ دلته هم ښایی د دود او سنت په زړه کی پرته رنګینی بېلابېلوالی یانی ډېر والی ښایي په پام کې ونېول شي.

یوسنت د ډېرو پوهانو او اندیالوله له ګډون او یو ځاییتوبه را ټوکیږي او ددې وګړو هر یو دنړۍ او انسان په وړاندې له ځانګړي لید لوري او اندنې ځخه کار اخلی . خو په یوه ځای کې کولای شو دوی په اهمو پېلیزو او مراندو کې شریکی وبولو. ساری په توګه دډېرو نوموتو اسلامی ، سوسیالیستی لیبرال اودغه راز د بېلابېلو نورو فلسفی او علمی ځانګو د پوهانو اندونه او نظریی یو تر بله په هماغه ټاکلی حوزه کی سره توپیر لری خو بیا دهری حوزی او ځانګی د لارویانو د فکری جوړښت مراندی او سکېچول په بنسټیزه اډانه که داسې انځورولۍ او پرتله کولۍ شو چې دوی په هغه اډانه او دعقیدتی حوزې   پدې بنسټیز ماحول کې د انسان او نړۍ په اړوند سره خپلیږي . او دهغوی انګېریزې  روایتی او د ګډې اندنې؛ سرچینی سره  یو دي .دساری په توګه داسلامی نړۍ ټول فلسفی اندیالي له ټولو بیلابیلو اندونو او نظریو سره سره ، په یوّ عقیدتی اړخ کې او ددینی انګیرنی په اډانه کې یو له بله ځنګ لګوی او دینی روحیاتو کې خپل ګډچاپېریال لري. نو په لنډه ښه کولی شو سنت دهویت لیکلې وجه ومنو چې دیوه کلتور دپوهانو په هنری ، ادبی او اندیزو نښېرونو او اثارو کې شتون مومي .

**هڅوب ، سنت او هویت دواړه !**

کومه پېژندنه چې دسنت او  هویت په باب وړاندی شوه دهغی په ملتیا کولۍ شو کلتور دهمدواړو دځانګړنو ټولګه وشمېرو .هڅوب یا کلتور دهغو انځورونو مجموعه ده چې یو ځانګړي ټولنیزچاپېریال یې دعالم ،انسان او ټولنیز ژوند په وړاندی لري.دغه راز  هڅوب دهویت لیکل شوی یا ثبت شوې برخه به خپله غېږ کی رانغاړی.نو هڅوب لدې پلوه او لدې نظره دیوه قام په دودونو ،رسمونو ، نرخونو او ارزښتونو کې هم خپلې یون لاری جاري ساتي.کوم بیلابیل تعریفونه چې له هڅوبه او دکلتور په اړه وړاندی کیږي او کومې ستونځې چې پدې ټولو تعریفونو کې لېدل کیږي پخپله دکلتور له همدې لویوالي ،پراخوالي یا کلیته سر راپورته کوي. ددی لیدلوري له مخې په ټولنه کې کومه داسې ځاګړنه (شاخصه) په پام کی نشو نېولۍ چې دکلتور برخه نه وي. یانې له کلتوري اغېزه لېرې او خوندی وي .لدې منظره ،هویت دکلتور نظري او پېلامیزي خواوې شمېرل کیږي او سنت دکلتور ثبت شوی او لیکل شوې برخی جوړوي .

**اندنه او  هڅوب**

وېیل کیږي چې اندنه او تفکر په یوه کلتوري چاپېریال کې راټوکیږي او  وده  او وړتیا مومي.هغو اندنو او تعریفونو ته په پاملرنی سره چې دلته یې یادونه وشوه، د دې ټکي سپیناوی او پوهاوی ډېر ښه کولای شي. اندنه اوتفکر پدې منظومه کی له هڅوب،سنت او هویته کوم بېل څه ندي . لکه چې مو ولېدل که چېری هویت د انځور له جنسه ومنو او تفکر هم بیخی همدی انځور سره وتړو ، نو پوهیدۍ شو چې هویت له اندنې سره ټینګ اړخ لګوي.له بلې خوا سنت هم اندنې او تفکر سره بی تړاوه نده. سنت چې د هویت لیکل شوې خوا ده  تفکر او سوچ سره  غوځ پیوند لري .

له همدی کبله ده چې له یوې خوا دهڅوب، سنت او هویت او له بلې خوا د اندنې او تفکر ترمنځ ډېر نږدې او کلک تړون لیدل کیږي. پدې معرفتي نظام کې سوچ او اندېنه پرته له ملاتیر او بنسټه نشی کولی خپلی غوښتی اومزله ته دوام ورکړي او پدې برخه کې پېلامیزه دنده دهڅوب پر غاړه ده . دشلمې پېړۍ کره انسان پدې پوهېدلۍ چې له سوچ او اندنې،له سنت ،هویت او کلتوره لېرې کول او هغه اخوا غورځول ناشوني ده،که چېرې دا شونې هم وای، غوره او مطلوب کار نه ؤ.

په بل عبارت له اندېنی او تفکره دسنت او  هویت غورځول نه شوني ده او نه غوره . د ننۍ زمانی ښوواند او کره بشر پدی پوهیدلۍ چې د غښتلي او پیاوړي سوچ کولو او تفکر لپاره لویی لمنی او هڅانه مټو ته اړتیا لري او دغه تمځای او پراخه لمن کلتور دۍ . اندېنه په تشه کې وده نه کوي. ټاکل شوې چې اندېنه او تفکر همېشنیو تېوسونو ته ځوابونه او د پوښتنو  همېشنۍ غبرګون ته چمتو او هرکلی ووایی.او دغه پوښتنه او اړتیا په یقینی توګه په کلتور کې ده چې راټوکیږي او ښکاره کیږي. دومره بس ده چې د تاریخ په اوږدو کی یو واری د بشري معرفت تکوینی یون وګورو تر څو پدې پوه شو چې پوهې او پېژاند (معرفت) تر کومه بریده د انسان رښتیاني او واقعی اړتیاوې په پام کې نېولي دي .

دژبی او اندنې تر منځ لنډ اونږدې اړیکې  پخپله د تفکر او کلتور خپل مېنځې اړیکې په ډاګه کوي .ژبه له یوې خوا دهڅوب،سنت او هویت اوله بلی خوا د تفکر او اندېنی هنداره ده .او مونږ پدې ځای کې معرفت او تفکر سره دهویت او کلتور نږدی او ټینګی اړیکی وینو .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لنډه داچې مونږ  دې ته ملزم يو څو ټولنيز ژوند سره ملګري او تړلي درې مفهومه يانې کلتتور ،سنت اوشناخت ښه او ژور وپېژنو . ددې دعوا هم نلرو څه چې مو وويل   کورټ کره او د کاڼې کرښه ده ، جامع او مانع پايله ده. دا زمونږ نظر او تر لاسه شوې زدکړه ده .مونږ يې د نقد او کره کتنې وړ بولو. زمونږ موخه دا وه چې يوبل سره د دغو درېواړه وپېو دتعريفونو په بيانولو سره د اند او تفکر اړيکې او تړاو وښيو. ځکه چې زمونږ دسوچ له مخې ددې تګلارې په ملتيا دا جوتيږي چې دځينو ناسمو تفسيرونو برخلاف دمعرفت او هڅوب تر مېنځ نږدی اړيکی موجودی دي .   هيله دا ده هغه ستونځ اوستغ او هغه دپرمخ تللي ژوند تشه چې زمونږ ټولنيز ژوند ګواښي د هڅان او ځپاند همغږي يون په بهيربدل کړو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ